| جمهورية مصر العربية | ٢ ربيع آخر ١٤٤١هـ | |
|---|---|---|
| وزارة الأوقاف | لغة البشتو | ٢٩ نوفمبر ٢٠١٩م |

(١)

## د مور او پلار او د خپل خپلوانو حقونه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکي دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا * وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا»** ژباړه:**« او ستا رب پرېکړه کړېده چي: تاسي د الله پرته بل د هيچا عبادت مه وکړئ. له مور او پلار سره ښه چار چلند وکړئ. که ستا سره له هغو څخه يو يا دواړه زړښت ته ورسيږي، نو هغو ته اُف قدري مه وايه. مه هغو ته په تور بريښ ځواب ورکوه، بلکي له هغو سره په درناوي خبري کوه؛ او په نرمۍ او رحم سره د هغو په وړاندي مات غاړي اوسه، او دا دُعا کوه: "پروردګاره! پر دوی رحم وکړه، لکه څنګه چي دوی له زړه سوي او خواخوږۍ سره په ماشومتوب کښي زه پاللی وم."»** او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چي د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

د اسلام مبارک دین د زغم په پیغام باندي راغلی چې د نیکو اخلاقو غوښتنه کوي او لوړو بنسټونو سره تړاو لري او برابر لاری او سلوک ته ښودنه کوي د ارزښتونو او لوړو مثالونو څخه يي د ژوند لاره رامنځته کړی د خلکو ترمنځ په چال او چلند کې د حق عدالت رحمت میني او د انسانیت غوښتنه کوي لکه چې الله تعالی فرمايي: « إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ» ژباړه: «الله د عدل، ښیګڼي او خپلوی پالني حکم کوي. او له بدی، بې حیایۍ او زور، ظلم څخه منع کوي. هغه تاسي ته نصیحت کوي تر څو درس (پند) واخلئ».
د اسلامي شریعت د لوړوالي د نښو څخه يو هم دا دی چې د مور او پلار او همدارنګه د خپلوانو سره د چال چلند لپاره بیلابیلي بنسټیزي قاعدي رامنځته کړې دې مور او پلار په خلکو کې ډیر د عزت پاملرني او د احترام حقدار دې الله تعالی مونږ ته پخپل کتاب کې امر کړی دی چې د والدینو سره نیکې وکړو همدارنګه الله تعالی د والدینو احترام او د الله عبادت او د هغه سره د شرک نه کول په یوځای کې بیان کړې دې لکه چې فرمايي: « وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا» همدارنګه الله تعالی مونږ ته امر کړی چې د هغه د نعمتونو شکر اوباسو او د والدینو شکر يي د خپلو نعمتونو د شکر سره تړلی ده دا پدي خاطر چې ددي دواړو فضیلت او مرتبه لوړه ده پدي هکله عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما فرمايلي: دری آیاتونه د دریو نورو آیاتونو سره تړلي دي چې یو بغیر د بل څخه نه قبلیږي لدي جملي څخه یو هم

د الله تعالی دغه وینا ده چې فرمایی: « أَنْ أُشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ» ژباړه: «زما شکر وکړه او د خپل مور او پلار شکر پر ځای کړه،»، نو څوک چې د الله تعالی شکر ادا کړي او د والدینو شکر ادا نکړي نو دهغه څخه دا هم نه قبلیږي.
د اسلام مبارک دین د والدینو شان ډیر لوړ کړی او د هغوی سره د نیکۍ خه پالني او د نرمښت امر یي کړی د عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما څخه روایت دی وایي یو سړی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغی او د جهاد ته د تللو اجازه یي تري غوښتله پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل آیا ستا مور او پلار ژوندي دي ورته یي ویل هو بیا یي ورته وفرمایل ولاړشه د هغوی خدمت وکړه همدا ستا لپار جهاد دی.
د صالح علیه السلام دوو لورګانو بیلګه چې د موسی علیه السلام په کیسه کې راغلي ده د نیکۍ او د ښه پاملرني بیګه بیانوي د هغوی پلار ډیر سپین ګیری شوی وو او کار یي نشو کولای نو د هغه پر ځای به دوی کار کولو بی لدي چې شکایت وکړي الله تعالی پدی هکله فرمایي: «وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّى يُصْدِرَ الرِّعَاءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ» ژباړه: «او کله چي هغه د مدين ځاه ته ورسېدی، نو وې لیدل چي ډېر خلك خپل څاروي اوبه کوي او له هغو څخه بېلي یوې خوا ته دوې ښځي خپل څاروي ایساروي. موسی (ع) له دغو ښځو څخه پوښتنه وکړه: "تاسي ولي اندېښمني یاست؟" - هغوی وویل: "مونږ خپلو څارویو ته اوبه نشو ورکولای، تر څو پوري چي دغه شپانه خپل

ځاروي بونځي، او زموږ پلار (شعيب ع) ډېر زيات سپين ږيرى سړى دى."».
د جابر رضی الله عنه څخه روايت دی وايي يو سړي پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته وويل چې زه مال او ځوی لرم او زما پلار غواړي چې زما مال واخلي پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ته او ستا دواړه ستا د پلار دي.
مونږ لپاره د حضرت فاطمي رضی الله عنها مثال يوه خه بيلګه ده چې په مينه احترام او مهربانۍ کې بې د خپل پلار لپاره درلود کله به چې مجلس ته داخل شو نو ورته ولاړيدله او لاسونه يي ښکلول او د هغه په مجلس کې کيناستله او ډيره مهرباني به يي کوله او په راتګ به ډيره خوشحاليدله او دا ټول ددي لپاره چې ډير درناوی يي ورته درلود.
همدارنګه مونږ ته اسلام امر کړی چې د والدينو درناوی وکړو او هغوی ته هيڅ ډول زيان ونه رسوو الله تعالی فرمايي: « إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا» ژباړه: «که ستا سره له هغو څخه يو يا دواړه زړښت ته ورسيږي، نو هغو ته اُف قدري مه وايه. مه هغو ته په تور بريښ ځواب ورکوه، بلکي له هغو سره په درناوي خبري کوه؛»، نو الله تعالی انسان د هر هغه کلمي څخه منعه کړی چې والدينو ته پري زيان رسيږي اګر که دا کلمه د أف د کلمي څخه هم په ټيټه کچه وي ځکه الله تعالی لدي څخه منعه کړی ده نو غوره همدا ده چې انسان بايد هغوی ته هيڅ ډول زيان ونه رسوي دا که په هر ډول وي حضرت ابوهريره رضی الله تعالی عنه يو

سړی ته د هغه د پلار سره د نیکی نصیحت کولو نو ورته یي وویل د خپل پلار په وړاندې مه ځه له هغه څخه مخکې مه کینه هغه پخپل نوم مه یادوه او هغه ته د کنځل کولو لامل مه کیږه ځکه مسلمان ته نه ښایي چې د خپل والدینو ته د زیان لامل شي پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي د لویو او کبیره ګناهونو څخه دا ده چې یو ځوک د خپلو والدینو لپاره د لعنت زریعه شي ورڅخه پوښتنه وشوه څنګه یو ځوک د خپلو والدینو لپاره د لعنت زریعه ګرځي وي فرمایل کله چې یو ځوک بل ته کنځل کوي دا پدې معني ده چې خپل مور او پلار ته کنځلې کوي.

همدارنګه د اسلام مبارک دین د والدینو سره په هغه صورت کې هم د نیکی امر کړی دی چې هغوی په بل ملت باندي وي لکه چې الله تعالی فرمایي:« وَإِن جَاهَدَاكَ عَلَى أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا»؛ ژباړه:« خو که مور او پلار پر تا فشار راوړي چي زما سره ته داسي څه شریك کړې، چي تا ته د هغه معلومات نه وي، نو د هغو خبره هیڅکله مه منه، په دنیا کي له هغو سره غوره چار چلند کوه» لکه چې ابراهیم علیه السلام خپل پلار ته دعوت ورکولو پدې هکله الله تعالی فرمایي:« وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا * إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْئًا * يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا * يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَنِ عَصِيًّا * يَا أَبَتِ إِنِّي أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمَنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا»؛ ژباړه:« او په دې کتاب کښي د ابراهیم(ع) کیسه یاده کړه، ښشکه

هغه يو ربښتينی انسان او پيغمبر ؤ* (دوی ته لږ هغه وخت ور ياد کړه) چي کله (ابراهيم) خپل پلار ته وويل: "پلاره! ته ولي د هغو شيانو عبادت کوې چي نه څه اوري نه څه ويني او نه ستا څخه د کوم شي دفع کولاي شي؟* پلاره ما ته يو داسي علم راغلی دی چي تا ته نه دی راغلی، ته په ما پسي راځه، زه به تا ته سمه لاره وښيم* پلاره! ته د شيطان بندګي مکوه، شيطان خو له الرحمان (الله) څخه سر غړوونکی دی* پلاره، زه وېرېږم چي ته به د الرحمان (الله) په عذاب اخته شې او د شيطان ملګری به شې».

همدارنګه اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها ته چې کله د هغي مور راغله غوښتل يې چې ورسره اړيکې ولري حال دا چې هغه مشرکه وه نو د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې مور ورته راغلي ده او غواړي چې اړيکې ولري نو آيا زه ورسره ځان نږدی کړم ورته يي وفرمايل د مور سره دي صله رحمي وکړه.

د والدينو سره نيکي کول ډيري اغيزي او لويي ګټي لري او لوی فضيلتونه پري رامنځته کيږي چې په دنيا او آخرت کې بنده د هغي ګټې ليدلای شي لدي جملي څخه يو هم دا دی چې د والدينو سره نيکي کول د الله تعالی د رضامندۍ لامل ګرځي لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي د الله تعالی رضا د والدينو په رضا کې ده او د الله تعالی قهر د والدينو په قهر کې ده.

همدارنګه د والدينو خدمت ددي لامل ګرځي چې سختيو څخه انسان په امن کې وي لکه چې پدي هکله مونږ ته نبي کريم صلی

الله علیه وسلم د دريو هغو کسانو يادونـه کړې ده چې لويـه تيږه د هغوي د څمڅي مخي ته راغلي وه نو يو پکي د خپلو نيکيو يادونه کړې وه چې د والدينو سره يـي کـړی وو نـو هماغـه وو چې الله تعالی هغوی ددغه کړاو څخه ژغورلی وو.
همدارنګه هر هغه څوک چې د والدينو احترام او خدمت کوي نـو اولاد به يي د هغه عزت او خدمت وکړي ځکه د خپل عمل بدلـه ورکول کيږي الله تعالی ابراهيم عليه السلام تـه د هغه څـه پـه بـدل کې چې د خپل پلار سره يي نيک اخلاق کړي وو او هغه تـه يې دعوت ورکړي وو
جزا د نيکۍ يي ورته ورکړ او د هغه ځوی اسماعيل عليـه السلام بيـا لـه هغـه سره نيکي وکړه لکـه چې قرآنکريم کـې ددي يادونـه شوی چې د اطاعت او د والدينو سره د نيکۍ لوړ شکل يـي بيان کړی الله تعالی فرمايي:« فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَى قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ» ژباړه:« کله چې اسماعيل (ع) له پلار سره د منډو ترړو کولو عمر تـه ورسيدی، نـو (يوه ورځ) ابراهيم هغه ته وويل: "زويه! زه په خوب کي وينم چي تا حلالوم؛ اوس ته ووايه چي ستا نظر څـه دی؟" - هغه وويل: "پلار جانـه! څه چي تا ته حکم کيږي، هغه وکړه، ته به انشاءالله ما له صابرانو څخه ومومې."».
لکه څرنګه چې د والدينو سره نيکي کول پـه دنيا کـې د ګټې او د خوښۍ وړ ګرځي همداسې پـه آخرت کـې هم د مسلمان د خوښـۍ لامل ګرځي چې پري جنت تـه داخليږي لکه يو سړی چې نبی

کريم صلی الله عليه وسلم ته راغی او جهاد ته د تللو اجازه يي تري اخيستله نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل آيا مور دي ژوندۍ ده هغه ورته وويل هو نو بيا نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل د هغي خدمت وکړه ځکه جنت د هغي د پښو لاندی دی همداسی نور هم بيلابيل حديثونه راغلي لکه د ابن عمر رضی الله عنهما چې ټول ددي ښودنه کوي.

نو دلته مونږ پدې ټينګار کوو انسان هر څومره چې د والدينو خدمت وکړي د هغوی حق نشي پوره کولاي او د هغوی د نيکۍ بدله نشي سرته رسولی لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي څوی د پلار حق نشي پوره کولای مګر دا چې هغه غلام وي واخلي او آزاد يي کړي.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*************

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**

لکه څرنګه چې د اسلام مبارک دین د مور او پلار عزت درناوی او خدمت کولو باندي ټینګار کړی همداسی یي د خپل خپلوانوسره د نیکۍ کولو امر یي هم کړی دی ځکه چې انسان د هغوي سره د خپلوي اړیکه لري او هغوي بیلابیل حقونه لري لکه چې الله تعالی فرمایي:« وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ»ژباړه:« خو د الله په کتاب کښي د ویني خپلوان (د میراث د وړلو د نظره) یو د بل زیات حقدار دي.»همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې الله تعالی مخلوق پیدا کړی او هغوي ته یی د صله رحمی امر کړی دی او د خپلو خپلوانو سره د اړیکو د پریکون څخه منع کړی ده لکه چې الله تعالی فرمایي:« فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ * أُولَئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَى أَبْصَارَهُمْ»ژباړ:« اوس ایا ستاسي څخه (اې منافقانو) له دې پرته نور څه هیله کېدای شي چي که قدرت په لاس درشي یا (د اطاعت څخه) په شا واوړئ، نو په ځمکه کښي به فساد برپا کړئ او پخپلو منځو کښي به خپلولۍ (او یو د بل سرونه) غوڅ کړئ؟* دوی همغه خلك دي چي الله ورباندي لعنت وکړ او (کانه، ړانده) یې کړل».

همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلی: چې الله تعالی فرمایي: زه الله او رحمن ذات یم رحمت مي پیدا کړی، نو ددی ساتنه باید وکړي د خپل خپلوانو سره صله رحمي پدی رامنځته کیږي چې هغوي خواته ولاړ شی او د هغوی د احوالو پوښتنه وکړي د هغوی سره مرسته وکړي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: په بي وزلو او مسکینو خلکو باندي صدقه کول صدقه ده

خو خپل خپلوانو باندي نفقه کول هم صدقه ده او هم صله رحمي ده همدارنګه د خپل خپلوانو دعوت او بلنه باید ومنل شي د هغوی د ناروغانو پوښتنه وشي په جنازو کې یي ګډون وکړې د هغوی د لویانو درناوی او په ماشومانو شفقت وکړې سینه ورته پراخه کړې او دعا ورته وکړې.
الله تعالی صله رحمی د عمر د برکت والی لامل ګرځولی چې رزق کې پراخوالی هم راځي نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدي هکله بیلابیل حدیثونه را نقل کړې چې پکې ټینګارپه همدي شوی چې که څوک غواړې عمر یي زیات شي رزق یي پراخه شي نو د والدینو سره دي نیکي وکړې او د خپل خپلوانو سره صله رحمي همدارنګه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ټینګار کړی چې صله رحمي د ګناهونو د ښښنی لامل کیږي یو سړی نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی ورته یي وویل ما لویه ګناه کړی آیا ما لپاره توبه شته؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل آیا مور دي ژوندۍ ده هغه وویل نه بیا یي ورته وویل خاله لری هغه وویل هو ورته یي وویل ولاړشه د هغي سره نیکي وکړه.
نو انسان ته لازمه ده چې د پریکون څخه ځان وساتي بدۍ ته په بدۍ ځواب ورنکړې بلکه ښښنه وکړې لکه چې پدي هکله د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه بیلابیل احادیث راغلي چې ټول پدي ټینګار کوي چې د صله رحمۍ ساتنه وشي او د پریکون څخه یی ځان وژغورل شي.
د اسلام مبارک دین د پریکون څخه منعه کړې ده او د هغي انجام یي په دنیا او آخرت کې ډیر لوی بیان کړی لکه چې نبي کریم

صلی الله علیه وسلم فرمايي: چې الله تعالی د صله رحمۍ پري کوونکي او سرکش ته په دنيا او آخرت کې جزا ورکوي او په بل حديث کې فرمايلي: صله رحمۍ ري کوونکی به جنت ته نه داخليږي.
نو مونږ باید د خپل پلرونو او مورګانو خدمت او درناوی وکړو صله رحمي وکړو او د ټولو خلکو سره د نيکۍ پر بنسټ پرمخ ولاړ شو.
ای الله! مونږ ته توفيق راکړې ترڅو د خپلو لرونو او مورګانو خدمت وکړو او مونږ د هغوی کسانو د جملي څخه وګرځوي چې صله رحمي کوي زمونږ اولس او هيواد مصر وساتي او د نړۍ د نورو هيوادونو سره يوځای يي په امن امنيت او هوساينه کې يي ولرې.